زما څخه یو آیت هم - خلکو - ته ورسوئ او د بني اسرائیلو په اړه خبرې وکړئ - هغه پېښې چې هغوی ورسره مخ شوي دي - پدې کې کومه ملامتیا نشته، او چا چې پر ما په قصدي توګه دروغ وویل، نو د ځان لپاره دې په اور کې د ناستې ځای وټاکي

له عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روایت دی وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «زما څخه یو آیت هم - خلکو - ته ورسوئ او د بني اسرائیلو په اړه خبرې وکړئ - هغه پېښې چې هغوی ورسره مخ شوي دي - پدې کې کومه ملامتیا نشته، او چا چې پر ما په قصدي توګه دروغ وویل، نو د ځان لپاره دې په اور کې د ناستې ځای وټاکي».

[صحیح دی] [بخاري روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم امر کوي چې د هغه لخوا دې خلکو ته د کتاب او سنت علم ورسول شي، که لږ هم وي لکه د قرآن یو آیت یا یو حدیث، پدې شرط چې رسوونکی خپله پر هغه څه پوه شي چې خلکو ته یې رسوي او بلنه ورته کوي. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم واضحه کړه چې پدې کې کوم باک نشته چې د بني اسرائیلو په حق کې د هغه څه په اړه وغږیږئ چې هغوی ته پېښ شوي دي پدې شرط چې زمونږ د شریعت سره په ټکر کې نه وي. بیا یې پر هغه د دروغ ویلو په اړه خبرداری ورکړ، او هغه څوک چې په قصدي توګه پر هغه دروغ ووایي، نو د ځان لپاره دې په اور کې ځای ونیسي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3686